# د سرتور فقیر ژوند او جدوجهد

## " The Life of Sartor Faqir and Struggle"

**Ihsanullah yousafzai***

**Abstract**

Like movements against British rule in other areas a movement was run in other in the leader and command of Saadullah Khan Sartor Faqir Known is Mad mulla in 1897.

One cannot deny the freedom struggle and its importance. This Ghaza or Holy war was fighted between Pakhtoons and British army in the leadership of sartor Faqir and Malakand in 1897.

In this research article, the life of sartor Faqir and his Struggles for freedom will be studied.

**Key words:** sartor Faqir,malakand,British,Pakhtoon,swat

د سرتور فقیر خپل نوم سعدالله خان وۀ. دے په سرتور فقیر، فقیربابا، ملامستان، لیونے ملا او بونیروال مشهور وۀ ـ دے د لیوتتوب تر حده د فیرنګي حکومت مخالف وۀ. نو ځکه فیرنګیانو دے په ملامستان او میډملا یاد کړے دے ـ دے د بونیر په رېګا نومې کلي کښې زیږ یدلے وۀ ـ د دۀ د ځاے ځائیګي او تاریخ پیدائش په حقله محمدعلي دینا خپل داسې لیکي

"سرتور فقیر د بونیر په رېګا نومې کلي کښې د کال ۳۰ ----- ۱۸۲۰خواوشا پیدا شوے دے"۱

د دۀ د پلار نوم حمیدالله خان وۀ چې په ځنو کتابونو کښې په بونیروال ملک هم یاد شوے دے"۲

دۀ د ابازي قبیلې سره تعلق درلودۀ ـ ابازي د یوسفزي ملیزي او بیا د نوریزي یوه ذیلي څانګه ده"۳

د سرتور فقیر د وړوکوالي نه د مذهبي تعلیم سره مینه وه نو ځکه د دیني زده کړې د پاره دے د هندوستان اجمیر شریف ته تلے وۀ ـ چې په دې اړه ډاکټر سلطان روم په خپل یو ریسرچ ارټیکل کښې داسې لیکي

"From childhood he too up travelling to various areas in search of religious education and for a period stayed also in AjmerIndia۴"

داسې هم وئیلے شي چې دۀ د خپل ورور سره په څۀ خبره جګړه کړې وه او خپل ورور ئې وژلے وۀ ـ

---

* Ph.D Scholar Pashto Academy UOP

(ځني خلق وائي چې دا مرګ اتفاقي وۀ) نو له دې کبله دۀ بونیر پرېښودۀ او هندوستان ته لاړه ولې داسې هم وئیلے شي چې دا مرګ سرتور فقیر نۀ وۀ کړے ـ دامرګ په اصل کښې د سرتور فقیر ورور زرداد خان کړے وۀ او خپل ورور نه بلکې خپل ورارۀ ئې په سوک وهلے وۀ چې په هغه ساعت مړ وۀ۔ په دې اړه محمدعلي دینا خېل داسې لیکي

"د سرتور فقیر د یو ورور زبدالله خان یو نمسے مدار خان وائي چې دا مرګ په اصل کښې د سرتور فقیر ورور زرداد خان (زرداد پهلوان) کړے وۀ ـ خو خپل ورور نه بلکې خپل یو ورارۀ ئې په سوک وهلے وۀ او مړ وۀ او هم د دغې وجې دوي د رېګا (بونیر) نه د رواج مطابق د یو څو کالو د پاره شړونکي شوي وو ۵

سرتور فقیر چې د مذهبي تعلیم د حصول په لړکښې د هندوستان اجمیر شریف ته لاړه نو هلته ئې څو کاله تېر کړل او بیا مېنځنۍ ایشیا ته لاړه او له هغه ځایه بیا د افغان ترکستان مزار شریف ته راغلو۔ دلته هم دۀ خواوشا اتۀ لس کاله تېر کړل او بیا کابل ته راغلو۔ په کال۱۸۹۵ء کښې دے بونیر ته واپس راغلو۔ په دې اړه ډاکټر سلطان روم داسې لیکي

> "He lived for som years in Ajmir and other places in india. He further travelled to central Asia and eventually settled in mazarisharif,theamir's chief cantonment in afghan Turkistan.He is said to have lived there for ten years and then to have gone to Kabul. He returned to buner in 1895"[6]

دا په ډاګه نۀ ده چې دۀ په ټول عمر کښې څومره ودونه کړي وو او اولاد ئې څومره وۀ ـ ولې چې دے په مختلفو ځایونو کښې اوسېدلے وۀ او په مختلفوځایونو کښې ئې ودونه کړي وو۔ چې په دغه ځایونو کښې د بونیر (رېګا) د سوات (فتحپور) او ساتال (مدین) شامل دي ـ دۀ اخري وادۀ په فتحپور کښې کړے وۀ ـ نو ځکه د دۀ دري لوڼه او یو زوے عمراخان چې په فتحپور کښې زېږدلي وو۔ ددۀ دغه دري لوڼه چې وروستو مختلفو ځایونو ته وادۀ شوې البته عمراخان د اخري وخته پورې په فتحپور کښې اوسېدۀپه فتحپور کښې د اولاد نه علاوه د دۀ څلور زامن ازاد خان، عبدالله، محیب الله او مېرافضل چې د بونیر په رېګا کښې وو۔

"عبدالله چې د سرتور فقیر په ژوندانۀ وفات شوے وے وۀ" ۷

او باقي دري زامن ئې د بونیر په رېګا کښې اوسېدل ـ په فتحپور کښې د اخري وادۀ نه مخکښې سرتور فقیر په ساتال (مدین) کښې هم وادۀ کړے وۀدغلته هم د دۀ یوه لور وه چې صابزادګۍ (صاحبزادګۍ) نوم ئې وۀ۔ په دې اړه د سرتور فقیر د لور زوے (نمسے) صوبېدار میا داسې وائي

"سرتور فقیر ساتال (مدین) ته هم راغلے وۀ ـ دے دلته هم څۀ موده دېره وۀ ـ دۀ دلته وادۀ هم کړے وۀ ـ یوه لور ئې هم وه ـ چې صابزادګۍ نوم ئې وۀ "۸

دغه رنګ په کاڼا (شانګله) کښې د سرتور فقير يو بل زوے امير فقير هم وۀ او يوه لور باچازرينه ئې په بشام کښې وه. په دې اړه محمدعلي دينا خېل داسې ليکي

"امير فقير د رياست سوات په فوځ کښې د لاندې درجې افسر وۀ "۹

سرتور فقير چې په کال ۱۸۹۵ء کښې بونېر ته واپس راغلو نو دلته د دۀ د بزرګۍ او تقوی اوازه خوره شوه او ډېر خلق ئې عقيدت مند شول ولې دۀ چې د ځان سره د فېرنګيانو خلاف کوم فکر راوړے وۀ. چائې د دغه فکر ملګرتيا ونۀ کړه نو ځکه دۀ يو ځل بيا بونېر پرېښودۀ او د فېرنګي حکومت خلاف د مهم چلولو په لړ کښې ئې د مختلفو علاقو دورې شروع کړې او خلق ئې د فېرنګيانو خلاف جهاد ته وهڅول.

په دې اړه شهباز محمدپه خپل کتاب "د ملاکنډ غزاګانې" کښې داسې ليکي

"په کال۱۸۹۷ء کښې ئې د باجوړ اتمانخېلو د سيمې دورې وکړې او خلق ئې د فېرنګي خلاف د جهاد د پاره راپاڅول"۱۰

دغه رنګ د کوهستان او برسوات دورې ئې هم وکړې. دلته ئې هم د فېرنګي خلاف خلق د جهاد د پاره تيار کړل. داسې هم وئيلے شي چې دۀ د فېرنګيانو د سخت دښمن هډې ملا سره هم تعلقات وو. دغه رنګ د امير افغانستان ورسره هم د خطونو په ذريعه روابط وو. په دې اړه شهباز محمد داسې ليکي

"داسې هم وئيلے شي چې دۀ د فېرنګي د سخت دښمن ملا نجم الدين المعروف هډې ملا سره تعلقات وو. دامير افغانستان ورسره هم د چيټو په ذريعه په غزا کښې د امداد وعدې وې"۱۱

د فېرنګي حکومت خلاف د مهم چلولو په لړ کښې د مختلفو علاقو د دورو نه پس دے د سوات جنکي خېل د سيمې فتحپورکښې دېره شو. دلته دۀ نۀ يواځې د فېرنګي حکومت په ضد مهم وچلولو او د خلقو په زړونو کښې ئې د فېرنګي حکومت خلاف کرکه پېدا کړه. بلکې دلته چې کوم خلق ددۀ د فکر نه متاثره شول او ددۀ عقيدت مند جوړ شول. دۀ د هغه خلقو جنګي تربيت هم وکړو. مچوخښې او د هغه وخت چې نوره کومه وسله وه. ددغه وسلې په ذريعه دلته دۀ د فېرنګي سرکار په ضدپه خپلو مريدانو جنګي مشقونه وکړل. سرتور فقير د جولائي مياشت کال۱۸۹۷ء کښې په لنډاکي کښې دېره شو.

په لنډاکي کښې د دۀ د دېره کېدو ذکر په يوه اولسي سندره کښې داسې شوے دے

په لنډاکي ورته دېره سرتور فقير دے
ډينګ فېرنګے د ځان په وير دے۱۲

په لنډاکي کښې چې سرتور فقير ډېره شو نو دلته هم دۀ د کراماتو اوازه تر لرې لرې خوره شوه ـ محمدعلي دينا خيل په خپل مضمون د سرتور فقيرژوند او مبارزه کښې په دې اړه ليکي چې

"فېرنګيانو ته هم خبرتيا ورکړے شوه چې يو نااشنا فقير په لنډاکي کښې ډېره شوے دے او خلق ستاسو سره د جنګ د پاره تياروي او دا هم وائي چې د دۀ د ملاتړ د پاره د بلې دنيا نه داسې فوځ راغلے دے چې په نظر نۀ راځي ـ دے خلقو ته داسې هم وائي چې د انګريز ګولۍ به په تاسو نۀ لګي او په اوبو به غور ځېږي"۱۳

فېرنګيانو ته په يو رپورټ کښې دا هم وئيلي شوي وو چې دۀ سره د ورېژو يوه کټوۍ وه چې بې شمېره خلق پرې مړېدل او ختمېده به نۀ ـ په دې اړه شهباز محمد په خپل کتاب د ملاکنډ غزاګانې کښې داسې ليکي "انګرېزانو ته په يو رپورټ کښې دا هم ووئيلے شو چې دۀ سره د ورېژو يوه کټوۍ وه چې بې شمېره خلق پرې مړېدل او ختمېده نۀ"۱۴

وړاندې ليکي چې : "انګرېزانو ته دا خبر هم ورسېدۀ چې دے خلقو ته داسې هم وائي چې ستاسو په ملا تړ به په اتۀ ورځو کښې فېرنګے د چکدرې او ملاکنډ نه وباسم ـ دغه رنګ د دۀ دا قسمه خبرې په عامو خلقو کښې هم ډېرې زر خورې شوې او چې کله د جولائي اخري لسيزه شروع شوه نو د بټ خېلې بازار هم د دۀ د قيصونه ګرم شوے وۀ ـ شپږويشتمه جولائي کال۱۸۹۷ء سرتور فقيرد فېرنګيانو خلاف په باقاعده ډول د جهاد اعلان وکړو او د څو سوه غازيانو سره د لنډاکي نه په ښکته را روان شو چې په دې غازيانو کښې د ډيلي باچا هم وۀ۱۵

که خلق يو خوا د سرتور فقير زړورتياته حېران پاتې شول نو بل خوا دۀ د روحاني طاقت نه هم ويرېدل او د خپلې مذهبي جذبې له کبله د لښکر سره ملګري کېدل او چې لښکر څومره په مخکښې تلونودومره په کښې عام خلق شاملېدل د تانې او اله ډنډ قبائلو هم د سرتور فقير په نره ملګرتيا وکړه او د لښکر سره ملګري شول اګر چې اول د سرتور فقير په لښکر کښې خوا و شا زر غازيان شامل وو ولې په ډېر لږ وخت کښې د غازيانو شمېر اتۀ زرو ته ورسېدۀ او بيا دولس زرو ته او په اخر کښې د غازيانو شمېر شل زرو ته ورسېدۀ. شهباز محمدبل ځاے ليکي چې

"پښتانۀ د خپلو ورونو کومک له سم راغونډېدلي وو. اوس د بونېر نه بونېروال هم رارسېدلي وو"۱۶

کوم زر غازيان چې د چکدرې د قلعې نه تاؤ شوي وو. د هغوي شمېر هم په ډېر لږ وخت کښې اتۀ زرو ته ورسېدۀ او کومو غازيانو چې د سرتور فقير په سر لښکرۍ کښې ملاکنډ ته مخه کړې وه ـ د هغوي شمېر هم دولس زره ته رسېدلے وۀ. په دې اړه شهباز محمد داسې ليکي

"د فېرنګي د وينا مطابق دولس زره غازيانو ملاکنډ ته مخه کړې وه"۱۷

که یو خوا اتۀ زره غازیان د چکدرې د قلعه نه تاؤ شول او د فېرنګیانو نه ئې یو دوه خطا کړل نو بل خوا هم په دغه ورځ ( جولائي) ماسخوتن د دولس زره غازیانو لښکر ملاکنډ ته راننوت د لیوي یو جمعدار د شپې پاؤ کم نهه بجې مېجر ډین ته خبر راوړۀ چې ملامستان سره له خپل لښکره ملاکنډ ته راننوت دېخوا فوځیان ایله په مشکله خپلو ټوپکو ته رسېدلي وو چې د دولس زره قبائلولښکر په ملاکنډ را اوخوت او د شپې نهه بجې وې چې غازیانو (قبائلو) په ملاکنډ یرغل وکړو۔ په دې اړه محمد علي دینا خېل بل ځائے کښې داسې لیکي

"دې لښکر د شپې په نهه بجې په ملاکنډ یرغل وکړو او کوارټر ګارډ ئې قبضه کړو او ټوله وسله ئې په خپله ولقه کښې واخسته ۱۸

د ملاکنډ د غزا ذکر د پښتو په یوه ټپه کښې داسې شوے دے۔

په ملاکنډ توره تیارۀ شوه

هارونه توره ځلوه چې رڼا شینه۱۹

په شپږویشتمه جولائي ماسخوتن چې په ملاکنډ د غازیانو (قبائلو) او فېرنګیانو تر مېنځه کوم جنګ اونښتو دا جنګ تر وړومبي اګست پورې روان وۀ۔ دېخوا د چکدرې په قلعه هم غازیانو په دغه ورځ حمله کړې وه ـدلته د دویم اګست پورې جنګ روان وۀ په اووۀ ویشتمه جولائي شمله او لندن کښې ناستو فېرنګي چارواکو ته هم پېغام واستولے شو چې د ملامستان په مشرۍ کښې پښتنو په یو وخت او یوه ورځ په چکدره او ملاکنډ حملې کړې دي په دېرشمه جولائي فېرنګي سرکار د ملاکنډ او چکدرې د فېرنګي فوځ د مرستې د پاره د ملاکنډ فیلډ فورس منظوري ورکړه ـپه دې اړه شهباز محمد داسې لیکي

"دوه بریګېډه فوځ سره د ډویژنل دستو ترتیب کړے شو ـ درې ورځې وروستو د دغه دوه بریګېډه فوځ د مدد د پاره یو بل بریګېډ هم جوړ کړے شو" ۲۰

پښتانۀ اګر چې څو ورځې پرله پسې د فېرنګیانو سره ښه په نره وجنګېدل ولې د دغه فوځ په رارسېدو سره فېرنګیان نور هم منظم شول د فېرنګیانو د شپاړس زره منظم او ترتیب یافته فوځ په لیدلو سره قبائلو حوصله وبائلله او لښکر تس نس شو او قبائل د میدان نه په شا شول۔

په دې جنګ کښې که یو خوا قبائلي وګړي مړۀ شول نو بل خوا فېرنګیانو ته هم ډېر لوے ځاني نقصان ورسېدۀ ـ په دې اړه د پښتو نوموړے مورخ روشن خان داسې لیکي

"اس حملہ میں انیس غازی شہید ہوئے اور انگریز سے ایک کرنیل ایک میجر ایک لفٹینٹ اور پانچ سو اکیس سپاہی مارے گئے اور ایک ہزار تیس سپاہی زخمی ہوئے" ۲۱

د ملاکنډ د غزا په اخري شپه سرتور فقير په خپله هم زخمي شوے وۀ ـ
په دې اړه شهباز محمد په خپل کتاب "د ملاکنډ غزاګانې" کښې بل ځائے داسې ليکي
"په ملاکنډ د حملې په اخري شپه سرتور فقير په خپله هم ژوبل شوے وۀ "۲۲
د قبائلو د مېدان نه د په شا کېدو په نتيجه کښې په دويم اګست فېرنګي فوځ پېش قدمي وکړه او د ملاکنډ نه په ښکته کليو کښې خوارۀ شول ـ په دې اړه شهباز محمد داسې ليکي
"فوځ تربيت شۀ. د ملاکنډ نه په ښکته کليو درخوارۀ شول کلي ئې وسول قتل عام ئې وکړو ـ جونه ئې کونډې کړې د خار چاربېته د خار کلي تباهي او د فېرنګي ظلم تباهي په بتې خېله کښې ئې هم د هاغه پښتنو وينې وبهېولې . چا چې د خپل وطن د دفاع عظيمه ګناه کړې وه"۲۳
دېخوا غازيان چې د دويم اګست پورې د چکدرې د قلعه نه تاؤ وو او دلته هم د فېرنګيانو ښه په نره وجنګېدل او په دې حمله کښې هم فېرنګيان د ځاني نقصان سره مخ شول غازيانو د خپلې مړانې کارنامې پرېښودې ـ ولې په دويم اګست چې د ملاکنډ له لورې د سربنډه بلډ په کمان کښې انګريزي فوځ راورسېدۀ نو دلته هم غازيانو نوره مقابله ونۀ کړے شوه او فېرنګي فوځ د چکدرې قلعه قبضه کړه او د پښتنو ئې داسې قتل عام وکړو چې نظير ئې نۀ مېلاوېږي ـ په دې اړه شهباز محمد داسې ليکي: "د ملاکنډ د لورې د نوي دمه فوځ امداد د قلعه فوځيانو له راورسېدو ـ نوره سخته مقابله ونۀ شوه د چکدرې قلعه بچ کړے شوه او د چرچل د وينا مطابق د اله ډنډ ډهېرۍ د شولګرې د شولو نه ډک پټي د مړونه ډک وو ـ فوځ د خپل کمانډر سر بنډن بلډ په حکم وړاندې لاړو ـ هر ځائے ئې تباهي خوره وغورځوله ـ په تانړه راغے د تانې کلے ئې د پختې د خوړنه څوارلس ډزه په توپو ويشتے وۀ ـ د کلي زنانه او ماشومان د کافر کوټ غرۀ ته استولے شوي وو ـ په کلي کښې څۀ غازيان او مشران پاتې وو ـ فوځ چې په کلي وراوخوت ـ لاس په لاس جنګ وشو ـ غازيان ځائے په ځائے ووژلے شو کلي ته اور ورته کړے شو ـ د کلي په مېنځ مېنځ کښې چې د کوم شهيدانو قبرونه دي او شناخت ئې نۀ کېږي ـ دا هم دغه د کال۱۸۹۷ء د غزا شهيدان دي "۲۴
په چکدره کښې د غازيانو د ماتې خوړلو نه پس فېرنګي فوځ ترلنډاکي را ورسېدۀ ـ دلته هم د غازيانو او فېرنګي فوځ تر مېنځه سخته مقابله وشوه ـ ولې غازيانو ماتې وخوړه ـ شهباز محمد وړاندې ليکي : "په نولسم اګست د فېرنګيانو فوځ ترمينګورې راورسېدۀ او دڅلريشتم اګست پورې هم دلته وۀ ـ اتۀ سوه ټوپکي ئې د خلقو نه راغونډې کړې په دويشتم اګست د موسىٰ خېلو، اباخېل، اکاخېل، معروف خېل، بامي خېل، بهلول، ګزي خېل او جنکي خېلو جرګه راغله او بغېر د څۀ شرط نه تسليم شوه او ليکلي ئې ورکړو چې که حکومت په مونږ هر څۀ کوي، مونږ به هغه بغېر د څه کش کړه منو"۲۵

دغه رنګ د دير شريف خان (نواب دير) هم د فېرنګيانو کلکه ملګرتيا وکړه ـ شهباز محمد بل ځاے ليکي چې : "ددير په سيمه چې په خلقو کومې جرمانې ولګولې شوې ـ هغه د دير د خان په لاس راټولې کړې شوې "۲۶

بل طرفته ميا ګلان هم د اکتوبر د مياشتې په اخر کښې سره د شېږو سوو ملکانو چکدرې ته حاضر شول او په روڼ تندي ئې فېرنګيانو ته د هر قسمه مرستې باور ورکړو او تر اخرې وخته به ئې د سرتور فقير خلاف هر رنګه رازونه د فېرنګيانو سره شريکول ـ په دې اړه محمد علي دينا خېل داسې ليکي

"مياګلانو تر اخرې وخته د سرتور فقير خلاف هر قسمه رازونه انګرېزانو ته رسولي دي ځکه چې د دوي د پوليټيکل ايجنټ سره ډېر تعلق وۀ "۲۷

د کال۱۸۹۷ء غزا چې د پښتني تاريخ يوه مهمه برخه ده ـ اګر چې په دې جنګ کښې پښتانۀ د فېرنګيانو په ضد ډېر په نره وجنګېدل ولې د څۀ وجوهاتو له کبله پښتنو په دې جنګ کښې ماتې وخوړه ـ دا جنګ د فېرنګيانو د پاره له ترټولو ګران جنګ وۀ ـ په دې جنګ کښې شريک فوځي افسرانو ليفټيننټ کرنل ايډمز او وسکاونټ فنکاسل ته په کاميابۍ د ټولو لوے فوځي اعزاز وکټوريه کراس هم ور کړے شوے وۀ.

د کومو وجوهاتو له کبله چې پښتانۀ په دې جنګ کښې د ناکامۍ سره مخ شول ـ دلته ئې لنډ شان ذکر کولے شي ـ

۱.د سرتور فقير او د هغۀ د ملګرو سره د منصوبه بندۍاو ټګ لارې نشتوالے ـ

۲.د اوږد جنګ تجربه ئې نۀ لرله ـ

۳. فېرنګي فوځ هر قسمه وسله لرله ـ توپې ورسره هم وې ـ ولې د غازيانو (پښتنو) سره د فېرنګي فوځ د مقابلې وسله نۀ وه ـ

۴.د پښتنو په مقابله کښې د فېرنګيانو فوځ روزلے شوے او تربيت وۀ ـ

۵. شريف خان (د دير نواب او مياګلان چې د فېرنګي وفاداران وو.

۶. د امير افغانستان بې ځايه وعدې ـ

۷.د سرتور فقير بې بنياده دعوې .

چې ګنې زما د ملاتړ د پاره د بلې دنيا داسې فوځ راغلے دے چې په نظر نۀ راځي ـ يا د انګرېز ګولۍ به په تاسو نۀ لګي په اوبو کښې به غورځېږي وغېره وغېره

په نومبر کال۱۸۹۸ءکښې د سوات د سیند دښي غاړې د قبائلو په غوښتنه سرتور فقیر د دېر د نواب خلاف لښکر وکړو. د دیر نواب چې په اصل کښې ئې د سرتور فقیر نه ډېره ویره محسوسوله خو د هغهٔ خاص سړے د رباط عبدالله خان د سرتور فقیر په ضد د دولس سوه کسانو لښکر وکړو او د نېک پي خېل په سیمه کښې د سوات او د دیر د قبائلو ترمېنځه سخت جنګ وشو چې سرتور فقیرپه کښې د ناکامۍ سره مخ شو.دغه رنګ فېرنګے په خپله پالیسۍ کښې جنګول کامیاب شو. څهٔ خلق خو د ملاکنډ د غزا د بېلات نه پس د سرتور فقیر نه شوکېدلي وو او په دې سره نور هم د سرتور فقیر نه د خلقو اعتماد پاڅېدهٔ.

فېرنګیانو (فېرنګي حکومت) په پښنتو کښې هم ځان له وفاداران پېدا کړل چې هغوي د سرتور فقیر په ضد د فېرنګي حکومت هر قسمه مرسته وکړه او سرتور فقیر ئې په خپل مقصد کښې کامیابولو ته پرې نهٔ ښودهٔ.

اخر د سرتور فقیر سره هم بله لار پاتې نهٔ شوه او هغهٔ په دې مجبوره شو چې د فېرنګي حکومت سره روغه وکړي نو ځکه ئې د کوهستان نه د خپل یو نژدې ملګري په لاس پولیټیکل ایجنټ ته د روغې جوړې د پاره خط ولېږلو فېرنګیانو هم دسرتور فقیر دې کار ته هر کلے اووې او سرتور فقیر د فېرنګیانو سره دا معاهده وکړه چې هغهٔ به نور د انګرېز حکومت خلاف نهٔ جنګېږي.شهباز محمد لیکي چې

"په کال۱۹۰۰ء کښې ئې د فېرنګیانو سره خاموشه روغه وشوه"۲۸

د فېرنګیانو سره د روغې جوړې نه پس فېرنګیانو سرتور فقیر ته د سوات د نوابۍ پېشکش هم کړے وهٔ ولې هغهٔ ترې انکار کړے وهٔ.په دې اړه د سرتور فقیر نمسے همایون خان داسې وائي : "انګرېز حکومت سرتور فقیر ته د سوات د بادشاهۍ پېشکش هم کړے وهٔ خو هغهٔ ترې انکار کړے وهٔ۲۹

د فېرنګیانو سره د روغې جوړې او معاهدې نه پس سرتور فقیر بر سوات ته راغلو او دلته د جنکي خېل په فتحپور کښې دېره شو.دلته هغهٔ د عبدالرحیم د لور سره اخري وادهٔ وکړو او څو کاله ئې په ارام تېر کړل او په کال۱۳۳٦ هـ بمطابق۱۹۱۷ء ئې د دې فاني دنیا نه کوچ وکړو او د سوات فتحپور کښې خاورو ته وسپارلے شو.

# حوالې

١.دیناخېل،محمدعلي،دسرتورفقیرژونداومبارزه،مشموله لیکوال،شماره(ن م) پېښور، اکتوبر۲۰۱۵،مخ۵۸
۲.هم دغه
3- sultan-i-Room,the Sartor faqir life and struggle against Brithis himperialism,Karachi Quarterly Journal of the Pakistan Historical society,volxlii,january1994,p93
4 Ibid
۵.دیناخېل،محمدعلي،دسرتورفقیرژونداومبارزه، مخ ۵۹
6- sultan-i-Room, p93
۷.دیناخېل،محمدعلي،دسرتورفقیرژونداومبارزه، مخ۵۸
۸.صوبېدار،میا،مخ په مخ،فتحپور،۱۵نومبر
۹.دیناخېل،محمدعلي،دسرتورفقیرژونداومبارزه، ،مخ۵۹
۱۰.شهبازمحمد،دملاکنډغزاګانې،چکدره،ملاکنډپوهنتون،۲۰۱۲،مخ۵۱
۱۱.هم دغه
12- sultan-i-Room, p94
۱۳.دیناخېل،محمدعلي،دسرتورفقیرژونداومبارزه،
۱۴.شهبازمحمد،دملاکنډغزاګانې ،مخ ۹۳
۱۵.هم دغه
۱۶.هم دغه،مخ۹۴
۱۷.هم دغه،مخ ۹۵
۱۸.دیناخېل،محمدعلي،دسرتورفقیرژونداومبارزه، مخ ۶۰
۱۹.خټک،یارمحمدمغموم،ډاکټر،د ازادۍ تحریک او پښتوشاعري، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،مئ۲۰۰۷،مخ۸۰
۲۰.شهبازمحمد،دملاکنډغزاګانې ،مخ۹۷

۲۱۔ پیر معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، مرتب کننده خان روشن خان، پېښور، پښتو اکېډیمي، ۱۹۷۷، مخ ۲۳۲
۲۲۔ شهباز محمد، د ملاکنډ غزاګانې، مخ ۹۸
۲۳۔ هم دغه، مخ ۹۸ نه ۹۹
۲۴۔ هم دغه، مخ ۱۰۱
۲۵۔ هم دغه، ۱۰۲
۲۶۔ هم دغه، ۱۰۳
۲۷۔ دیناخېل، محمد علي، د سرتور فقیر ژوند او مبارزه، مخ ۲۱
۲۸۔ شهباز محمد، د ملاکنډ غزاګانې، مخ ۱۱۰
۲۹۔ همایون خان، مخ په مخ، فتحپور، ۵ نومبر ۲۰۱۲.